PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهي لارښوونې

اې مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ. نیکیو ته ملا وتړئ. تر څو مو خلاصون په برخه شي. د الله په لیار کې داسې حق جهاد وکړئ چې دهغه سره ښایي. هغه تاسو غوره کړی یئ او په دین کې یې په تاسو کوم سختوالي او تنګي نه ده ټاکلې. د خپل پلار ابراهیم پر ملت ټینګ ودریږئ او الله پاک پخوا هم تاسې مسلمان نومولي واست او په دې قرآن کې هم ستاسې همدا نوم دی. (سورة الحج : ۷۶ - ۸۸)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

هر چا چې خپل ګاونډي ته تکلیف ورسول هغه ماته تکلیف ورسول، او چا چې ماته تکلیف ورساو هغه الله ته تکلیف ورساو، چا چې له خپل ګاونډی سره جنګ وکړ هغه له ماسره جنګ وکړ او چا چې له ماسره جنګ وکړ هغه له الله سره جنګ وکړ. (ترغیب او ترهیب)

شهادت دویم کال، ۸۷ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د لیندی ۲۴ مه د۱۴۳۱ هـ ق د محرم الحرام ۸ مه د۲۰۱۰ م د دسمبر ۱۵ مه

سړنی ژمی جګړه اوږده او سخته ده "د جرمني د دفاع وزیر"

کابل، رسنی:

د جرمني د دفاع وزیر کارل تیودو ګوتنبرګ وویل چې د تېر کال د ژمي په پرتله سړنی ژمی جګړه اوږده او ډېره سخته وه.

نوموړي چې په یوه ناڅاپي سفر کندوز ولایت ته لاړ هلته یې د جرمني پوځیانو په یوه پوځي اډه کې دغه خبرې وکړې.

د جرمني د دفاع وزیر وویل په پوځي ډګر کې په تېرو میاشتو کې زیات پرمختګونه شوي دي.

نوموړي ټینګار وکړ چې غواړي د سیمې د جګړې یو روڼ تصویر واخلي. دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې جرمني په افغانستان کې خپل پوځي ماموریت وغزوي.

د ناټو مقاماتو تېره اوونی په بروکسل کې وویل چې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو عمومي قومندان له جرمني غوښتي چې افغانستان ته نورې اواکس څارونکې الوتکې واستوي.

وزیر دفاع روسیه:

نیروهای روسیه در افغانستان حضور نخواهند داشت

مسکو، ریا نووستی:

روسیه نیروهای خود را به افغانستان اعزام نخواهد کرد، در این باره اناتولی سیردیوکوف وزیر دفاع روسیه در روز دوشنبه به تلویزیون "ویستی - ۲۴" خبر داد.

وزیر دفاع روسیه گفت: "ما از همان ابتداء گفته بودیم و من میتوانم یکبار دیگر تکرار نمایم که ما بصورت فزیکی در انجا شرکت نخواهیم کرد، مقصد من اینست که پرسونل ما درانجا شرکت نخواهد کرد، ولی، در عین حال، ما اماده ایم هرنوع حمایت، مربوط به حمل و نقل تسلیحات، تخنیک نظامی و پرسونل بعمل اوریم".

موصوف یاداوری نمود که فدراسیون روسیه از همان ابتداء از عملیات نیروهای بین المللی که در

بقیه در صفحه ۳

د امریکا لوی درستیز:

په افغانستان کې به د امریکایي ځواکونو په شمېر کې لوی بدلون رانه شي

بغداد، رسنی:

د امریکا د ټولو قواوو لوی درستیز اډمیرل مایک مولن د دوشنبې په ورځ وویل چې دی په افغانستان کې د جنګېدونکو امریکایي پوځیانو په شمېر کې د لوی بدلون اټکل نه کوي.

له بغداد څخه د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې مایک مولن امریکایي پوځیانو ته وویل چې په افغانستان کې به د اوسنیو موجودو امریکایي پوځیانو شمېر، چې شاوخوا یولکو ته رسېږي، په فوق العاده ډول زیات نه شي. ده په عین حال کې وویل چې د پرشمېر امریکایي پوځیان به هم له دې هیواده ونه ایستل شي.

د ولسمشر بارک اوباما حکومت غواړي چې د راتلونکي ۲۰۱۱ کال له جولای څخه له افغانستانه د خپلو ځواکونو په ایستلو پیل وکړي.

خو مولن وویل:«زه په افغانستان کې د خپلو عسکرو د شمېر له درکه ډاډه یم.»

ډېر کارپوهان وایي چې که د افغانستان امنیتي وضعیت ښه نه شي امریکایي پوځیان به له افغانستانه ونه وځي خو که د روغې جوړې امکانات برابر شي ښایي امریکایي پوځیان ونه غواړي چې په دې هیواد کې پر پاتې

پاتې ۳ مخ

طالبانو پر امریکایانو اتلس زره حملې کړي دي

امریکا، رسنی:

امریکایي مجلې (یو. اس. اې. ټوډې) د پنتاګون په حواله راپور ورکړ چې سږ کال د طالبانو لخوا پر امریکایي پوځیانو باندې وسلوالې حملې د تیر کال په نسبت تقریباً دوه چنده زیاتې شوي دي چې په هغو کې د ماین چاودنې شاملې نه دي. راپور وایي چې تیر کال (یعنې په ۲۰۰۹ کې) طالبانو پر امریکایانو د کلاشنیکوفونو ،

پاتې ۳ مخ

د عقل غوښتنه داده چې په افغانستان کې جګړه پای ته ورسول شي

دویم مخ

د پردیو پوځي شتون د فساد اصلي جرړه

درېیم مخ

ریچارد هولبروک په ۶۹ کلنۍ کې مړ شو



امریکا، رسنی:

د سي این این د راپور له مخې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاص استازی ریچارد هولبروک، د دوشنبې په ورځ په ۶۹ کلنۍ کې مړ شو.

نهه شپېته کلن هولبروک د جمعې په ورځ د امریکا د بهرنیوچارو په وزارت کې له ناروغېدو وروسته په نژدې روغتون کې بستر شو.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما د ریچارد هولبروک مړینه تایید کړه او ژوره خواشیني یې پرې څرګنده کړه.

هولبروک په داسې حال کې له دنیا سترګې پټې کړې چې سپیني ماڼۍ د افغانستان د جګړې په باب د خپلې ستراتیژۍ بیا کتنه پیل کړې او ټاکل شوې

پاتې ٤ مخ

تاجک پارلماني مقام:

روسي پوله ساتو ته اړتیا نشته

تاند ویب پاڼه:

وروسته له دې چې روسېې وویل تیاره ده تاجکستان ته خپل ځواکونه ولېږي چې له افغانستان سره د دغه هیواد د پولو ساتنه وکړي، د تاجکستان د ولسي جرګې یوه مخکښ غړي محمدعلي وطنوف نن وویل چې تاجکستان په تېرو پنځو کلونو کې ثابته کړې ده چې تر روسانو له افغانستان سره خپله پوله ښه ساتلی شي.

ښاغلی وطنوف ،چې د تاجکستان د ولسي جرګې د قانونونو جوړونې د کمېټې مشر دی، دا خبره خبریالانو ته وکړه.

ښاغلي وطنوف همداراز وویل: د خینو شنانډو دا نظر،چې که روسي پوله ساتې د افغانستان او تاجکستان له ۱۳۴۴ کیلومتره اوږده سرحده لارل، نو د منځنۍ اسیا هیوادونو ته به د افغانستان د مخدرو موادو سېل رامات شي، ناسم ثابت شو او وخت وښودله چې زموږ هیواد او زموږ سرحدي ځواکونه خپلې پولې ښه ساتلی شي.

له بلې خوا د امریکا د ډیپلوماتیکو اسنادوله مخې چې ویکي لیکس په وروستیو کې افشا کړي، تاجکستان په خپله خاوره کې د امریکا له پوځي اډې سره د موافقې نښې نښانې ښودلي څو په دې توګه له یوې خوا

پاتې ٤ مخ

با ختم دوره‌ء آقای کرزی در افغانستان چه اتفاق خواهد افتاد؟

منابع خبری جهان:

تحلیل گران به این باورند که آماده گی ها برای یک افغانستان بعد از حامد کرزی باید از همین حالا آغاز شود، زیرا به انتخابات بعدی ریاست جمهوری افغانستان چند سال بیش باقی نمانده است و هنوز هم هیچکس نمی داند که با ختم دوره آقای کرزی در افغانستان چه اتفاق خواهد افتاد.

روزنامه وال ستریت ژورنال می نویسد که مقامات امریکایی باید از همین حالا ذهنیت مردم را از نگاه سیاسی آماده سازند که رییس جمهور کرزی در سال ۲۰۱۴ مجبور است این مقام را ترک کند. همزمان با آن باید حرکت های سیاسی روی کار آید که قادر باشد، جای حکومت او را پر کند.

روزنامهء وال ستریت ژورنال می نویسد:

در اسناد افشا شده ویکی لیکس در مورد شخصیت آقای کرزی بسیار مطالب به نشر رسیده است. اورا یک فرد ضعیف و جاه طلب خوانده اند. اما در این اسناد یک جمله هم گفته نشده است که اگر آقای کرزی از صحنه سیاسی افغانستان خارج شود، چه طرح های برای حکومت آینده افغانستان وجود دارد؟

به نوشته روزنامه سوال اول اینست که آیا آقای کرزی با ختم دورهء دوم ریاست جمهوریش، واقعا کرسی را رها می کند؟

-بعضی تحلیل گران به این باورند که شاید آقای کرزی با تغییر در قانون اساسی یا انحصار دور بعدی انتخابات و یا هم با اعلان حالت اضطراری و حکومت نظامی انتخابات بعدی را به تعویق بیاندازد.

به نوشتهء روزنامه اگر فرضاً رفتار آقای کرزی تغییر کرد و مردم نارضی تر شدند و اورا تحت فشار قرار دادند که حتی قبل از سال ۲۰۱۴ کرسی ریاست جمهوری را رها کند ، در چنین حالت هرتلاش که برای قانع ساختن آقای کرزی که قدرت را ترک نماید، باید از سوی خود افغان ها صورت گیرد ، که این عمل طبعاً استثنائی و مفرط می باشد.

پس راه حل مناسب چیست ؟

بقیه در صفحه ۴

جنرال بلاتز:

آیساف در سال ۲۰۱۱ شاهد خشونت های تازه خواهد بود

کابل رسانه ها:

نیروهای آیساف در نظر دارند با اجرای عملیات بیشتر در بخش های مختلف افغانستان، بالای مخالفین مسلح دولت این کشور فشار وارد کنند تا از جنګ دست بکشند.

جنرال جوزیف بلاتز سخنگوی نیروهای آیساف در افغانستان به خبرنگاران گفت، که این عملیات در جنوب، جنوب غرب و شرق این کشور اجرا خواهد شد.

جنرال بلاتز به ادامه افزود:

"از دیدگاه آیساف فصل پایان ختم جنگ در افغانستان وجود ندارد، ما به فشار های خود بالای مخالفین ادامه خواهیم داد. ما شاهد خشونت های تازه در سال ۲۰۱۱ خواهیم بود و درگیری های بیشتر صورت خواهد گرفت. هنوز کار انجام نشده است."

نیروهای آیساف چند روز پیش هم گفته بودند که حاضر به اجرای عملیات زمستانی علیه مخالفین اند. اما شماری از کارشناسان امور نظامی می گویند، راه اندازی این عملیات

پاتې ۳ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ایا موږ له جنجال پرته بل څه نه پیژنو؟!

د پارلماني ټاکنو په سر اختلافات او ناندرې تر دې حده رسیدلي دي چې اوس د ټاکنو خپلواک کمیسیون او لوی څارنوالی ترمنځ د لفظي جګړې نغاره ډنګول کیږي.

د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشر ښاغلی معنوي د لوی څارنوالی تر دې غوښتنې وروسته چې ټاکنې دې لغوه اعلان شي وویل: د لویې څارنوالی وروستی دریځ خندوونکی دی هېڅ ارګان نه شي کولي چې ټاکنې لغوه اعلان کړي، هغه زیاته کړه چې د ټاکنو لغوه کول له خیال او جنون پرته بل څه نشي کیدلي. هغه اخطار ورکړ چې داسې کړنه به افغانستان له یوه کړکیچ سره مخامخ کړي.

ډېر د تأسف ځای دی چې موږ افغانانو تراوسه یو کار هم په اتفاق، مشوره او د قانون په چوکاټ کې ترسره نه کړ. بلکې هر کار مو که هغه څومره ښه او اتفاقي هم و بې اختلافه او بې جنجاله پرې نښود.

ډېر لرې به نه ځو، د روسانو په خلاف جهاد مو په یو اتفاق ونه کړ، یو تنظیم او یوه دریځ مو خپل نکړ، یو مشر او یوه قومانده مو ونه منله، په ګڼو ډلو ټپلو وویشل شوو، ګڼې مرامنامې او منشورونه مو جوړ کړل د روسانو له وتلو او د نجیب د راپرځیدو وروسته مو یو حکومت او یوه اداره جوړه نکړه، د ملت د ارادو او غوښتنې په خلاف مو شخصي حکومت جوړ او د یو بل د پرځولو په خلاف مو وسله اوچته کړه، په زوره اقتدار ته د رسېدو په خاطر مو خپل ډېر افغانان ورونه شهیدان او خپل هېواد مو په کنډوالو بدل کړ. د طالبانو د اقتدار پر مهال هم هېواد د جګړو ډګر و او زرګونه افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړه. د ستمبر له یوولسمې پیښې وروسته چې امریکا پر افغانستان پوځي یرغل وکړ او عملاً پر افغانستان قابض شو نو د کرزي په مشرۍ عبوري حکومت جوړ شو، بیا وروسته چې د ولسمشرۍ ټاکنې وشوې هغه هم له جنجال او پر یو بل د تورونو لګولو نه خالي نه وې، د ولسمشرۍ په دویمه ټاکنو کې هم درغلۍ او خیانت سر اوچت کړ پر یو بل ډېر غټ تورونه ولګیدل، نژدې وه چې دغه ټاکنې لغوه اعلان شي خو ددې نوبت ونه رسید، اوس دوه میاشتې وړاندې چې پارلماني ټاکنې وشوې دا هم له درغلۍ او فساد نه خالي نه وې، دچا چې څومره وسه و ایله یې پرې ونکړه، بې خرته پیسې ولګیدې ډېرې بډې او رشوتونه وخوړل شول او بربنډې درغلۍ پکې وشوې، د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون نه نیولی تر بهرنیو ادارو پورې هم په فساد رشوت او درغلۍ تورن شول، اوس خبره تر دې رسیدلې ده چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او لوی څارنوالی پخپلو کې لاس او ګریوان دي.

که د یو هېواد د حکومت او ولس دا حالت وي چې یو جایز کار هم له اختلافه پرته نه کوي او په هر یو کار کې د جګړې میدان ته راداګي د یو بل په خلاف غلیظ تورونه لګوي او یو بل ته ګواښونه کوي نو دداسې حکومت او ولس انجام به څه وي؟ څنګه کولی شي چې یو غښتلی حکومت، غښتلی نظام او غښتلی پارلمان جوړ کړي او خپل هېواد د پرمختګ او استحکام په لور روان کړي؟

هغوی څنګه کولی شي خپل اقتصاد، تعلیم، زراعت، صحت، سیاست او داخلي استحکام ته وده ورکړي؟ خپل ولس یو موټی او یو دریځ او یو شعار لاندې راغونډ کړي؟! موږ نه لیوني یو او نه هم ماشومان چې په ښه او بد پوه نه شوو، ښه هم پیژنو، بد هم، د دواړو ترمنځ د رڼا ورځ او توری تیارې شپې په څیر غټ فرق دی. خو ډېر افسوس چې خپل غرض او نفساني غوښتنو دومره وړانده کړي یو چې پخپل لاس خپل ځانونه د هلاکت کندې ته غورځوو.

لډینه د وتلو لاره دا نه ده چې له ګناه نه د پاکېدو لپاره له چالاکي، مکر او درواغو څخه کار واخلو او په دې ډول د حقایقو په پټولو سره خپل هېواد او ولس ته نه جبران کیدونکی تاوان ورسوو، که موږ غواړو چې خپل هېواد او ولس له ټولو تاوانونو څخه وساتو، د ژوند په هر ډګر کې پرمختګ وکړو قانوني حکومت او هوسا ژوند ولرو نو لدې پرته بله چاره نه لرو چې الهي قانون ته تسلیم شوو، د خپل رب په وړاندې د غلامی او اطاعت سرونه کیږدو، د ژوند په هر ډګر کې قانون رعایت کړو، رښتوني مؤمنان او رښتوني مسلمانان جوړ شوو، پخپلو کې ضد، عناد، تعصب او حسد پرېږدو، د هر چا د حقوقو احترام وکړو، دچا شخصیت داغداره او بدنامه نه کړو.

که الله مکړه موږ خپل دغه رویه او عادت پرې نږدو نو د دنیا هېڅ طاقت به مو د زوال او ذلت له ژوند نه ونه ژغوري او بالاخر خپل ټول معنوي او مادي حیثیت به له لاسه ورکوو او د غلامي زنځیرونه به په غاړه ګرځوو، ځکه چې له خپلې عقیدې او خاورې سره د جفا کوونکی قوم انجام همدا وي.

د عقل غوښتنه داده چې په افغانستان کې جګړه پای ته ورسول شي

محمد عمر

له حالاتو نه داسې جوتیږي چې د افغانستان روان کړکیچ د خبرو اترو له لارې نه شي حل کیدی. ځکه چې امریکا او ناټو غړي هېوادونه د مخالفینو د شرایطو، او مخالفین دهغوی د شرایطو له منلو څخه کلک انکار کوي. امریکا د خپلې خوښې په شرایطو سوله غواړي او مخالفین د خپلې خوښې په شرایطو. د دواړو لوریو څخه د وړاندې شویو شرایطو ترمنځ دومره غټ تفاوت او لرې والې دی چې کله هم ورباندې د توافق امکان نشي راتلی، څرنګه چې امریکا او ناټو غړي هېوادونه په افغانستان کې د خپلو ګټو د لالچ او پوځي غرور له کبله انعطاف ته سر نه ږدي همداسې دهغوی پرضد وسله پرلاس جنګیدونکي مخالفین هم له خپلې عقیدې او خاورې سره د سودا بازي کولو لپاره نه چمتو کیږي، دهغوی شعار دا دی چې د ژوند تر اخریو سلګیو پورې به د بهرنیو ځواکونو په خلاف خپلې جګړې ته دوام ورکوي او تر هغې به ګوته له ماشې نه لرې نه کوي تر څو چې له افغانستانه بهرني ځواکونه په بشپړ ډول وتلي نه وي.

څرګنده خبره ده چې د خپلو خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د دواړو په وړاندې د جنګ له تداوم پرته بله لاره نشته، که څه هم د لسو کلو په اوږدو کې د دواړو لوریو غوڅ بریالیتوبونه نه دي ترلاسه کړي او په دې نه دي توانیدلي چې جګړه پخپله ګټه وڅرخوي خو دیته هم چمتو نه ښکاري چې جګړه ودروي او د مذاکرې لاره پرمخ بوځي.

دا چې دا جګړه به څومره وخت دوام وکړي څوک څه نشي ویلې، خو دا یوه خبره د هر چا په خوله ده چې بهرني ځواکونه د ماتې په لور روان دي او یوه ورځ به حتمي ماتې خوري، ځکه چې هغوی د تېرو لسو کلو راهیسې په پوځي ډګر کې له ماتې او ضعف پرته بل هېڅ ثبوت نه دی وړاندې کړی. برعکس د مخالفینو د اثر او رسوخ ساحه مخ په پراخېدو او بریالیتوبونه یې مخ په زیاتېدو دي چې پخپله امریکا او ناټو غړو هېوادونه ورباندې په واضح کومې اعتراف کوي. بهرني ځواکونه په پوځي ډګر کې د ضعف ترڅنګ د افغانانو د تأیید او ملاتړ په ترلاسه کولو کې هم پاتې راغلي دي، هغوی چې تراوسه د افغانستان له اوسېدونکو سره له تکبر نه ډک کومه ناروا او ظالمانه سلوک کړی دی، دهغوی په وژلو، ځورولو او بې عفته کولو کې څومره له بې باکی او وحشت نه کار اخستې دی. د افغانانو د کرکې، قهر او نفرت له کسبولو پرته یې بل هېڅ نه دي ترلاسه کړي. همدا لامل دی چې د ګردو افغانانو په زړونو کې د بهرنیو پوځیانو په خلاف سخته کرکه تر سترګو کیږي او هر یو افغان همدا غواړي چې دغه بې احساسه او مبتکر ځواکونه دی له افغانستانه ژر تر ژره ووځي تر څو د افغانستان ولس له دې بوګنوونکې او ویرجن حالت څخه نجات ترلاسه کړي.

د افغانانو مطلق اکثریت د بهرنیو ځواکونو شتون د خپل هېواد او ولس په تاوان بولي او داسې انګیري چې تر څو پورې دوی له افغانستانه ونه وځي نو د جګړې تورې لوخړې او انسان وژنې روانه لړۍ به پای ته ونه رسیږي، ددغې جګړې اصلي قربانیان به بې ګناه افغان ولس وي او هر ورځ به د ځاني تلفاتو ترڅنګ مالي تاوانونه همویني او هېواد به یې هم کمزوری کیږي.

امریکا او دهغې ناټو غړي هېوادو مشرانو ته پکار دي چې د جګړې د ګټلو د بې ځای ضد پر ځای دې پر څمکنیو حقایقو غور وکړي او په دې واقعیت دې ځان پوه کړي چې په افغانستان کې دهغوی پوځي بری ناشونې دی، ددې پر ځای چې نور هم ځاني او مالي تاوانونه ورسیږي له مخالفینو سره دې د با معنی او حقیقي مذاکراتو لاره ونیسي او د موافقې داسې لاره دې ولټوي چې په هغې کې د امریکا د برلاسي او باداري بوی نه وي، ځکه چې مخالفین او د افغانستان اکثریت وګړي د بل چا باداري په هېڅ صورت کې نه شي منلی او دېته سر نه ږدي چې د بل چا په غلامي کې ژوند تیر کړي.

د ټولې نړۍ پوځي ماهرینو رأی همدا ده چې امریکا د افغانستان جګړه نشي ګټلي لکه څنګه چې د تاریخ په اوږدو کې د برتانیې او روسي پوځونو ماتې خوړلي همداسې امریکایي او ناټو ځواکونه به هم له ماتې سره مخامخ کیږي.

پخپله د امریکا پخوانی ولسمشر جیمي کارتر هم خبریالانو سره په یوه مرکه کې ویلی دي چې امریکا به په افغانستان کې له ماتې سره مخامخ کیږي، د تاریخ په اوږدو کې چې هر چا پر افغانستان یرغل کړی هغه ناکام او نامراد واپس شویدی. زه ګمان نه کوم چې امریکا دې په افغانستان کې خپل اهداف ترلاسه کړی شي.

آخر داسې یو جنګ چې هېڅ ګټه ورباندې نه مرتب کیږي او له انسان وژنې پرته نور څه نه ترلاسه کیږي دهغه پر تداوم اصرار کول کوم عقل او منطق دی؟

که امریکایي چارواکي بیا هم د عقل او منطق غوښتنه تر پښو لاندې کوي او د جګړې د ګټلو ضد ترسره کوي نو خپل دا شوق دې ضرور ترسره کړي. نړیوال به سترګې په لاره وي چې آیا امریکا او دهغې ملګري هېوادو پوځونه به د انګلستان او روسي عسکرو په سرنوشت اخته کیږي او که د بریالیتوب نوی باب به پرانیزي؟

ددې ځواب به راتلونکی تاریخ ورکوي.

مګر دا خبره دی د کاڼي کرښه وګڼي چې د افغانستان مطلق اکثریت د بهرنیو ځواکونو په شتون او مزید پاتې کېدو سره سخت حساسیت لري نو ځکه په یقیني ډول ددې خبرې وړاندوینه کیدلي شي چې د وخت په تېریدو سره به د بهرنیو ځواکونو په خلاف د جګړې لمنه نوره هم پراخیږي او بالاخر ټول افغانان به د بهرنیو پوځونو په خلاف د جګړې میدان ته را داګي، ښه به دا وي چې ددې نوبت له رسېدو نه وړاندې له افغانستان نه د وتلو آبرومندانه لاره چاره ولټول شي او د زیاتو وینو د تویدو مخه پر وخت ونیول شي.

د پردیو پوځي شتون د فساد اصلي جرړه

عبیدالله صافي

د تیرې اونۍ د شپې پر مهال شاو خوا درې بجې امریکایي جنګي الوتکو د پکتیا په زرمت ولسوالۍ کې د لوی لارې اووه ساتوونکي چې د همدې ولایت اوسیدونکي وو ووژل، او په دې توګه امریکایي ړندو پیلوټانو په ړندو بمباریو کې اووه کورنۍ او دهغوی نور خپلوان یې د غم او ویر په ټغر کېښول.

له کله نه چې امریکا پر افغانستان خپل پوځونه مرش کړي دي له همغې ورځې نه د افغانانو په کورونو کې د غم او ویر ټغر غوړیدلی داسې ورځ نه تیریږي چې د بې ګناه افغانانو وینې توی نه شي او دهغوی کور کلي په کنډر بدل نه شي.

هغه امریکا چې په خوله د بشر د حقوقو ترانې وایي او خپل ځان د بشر د حقوقو قهرمان ګڼي پوځیان یې د عمل په ډګر کې د انسانیت اهانت کوي، وینې یې توېوي، پر عزت یې لوبې او ډول ډول ظلمونه وربانديې کوي. همدا لامل دی چې د نړۍ په هر ګوټ کې د امریکایي پوځونو په خلاف کرکه مخ په زیاتېدو ده.

هغه امریکا چې افغانستان ته د امنیت د ټینګښت، بیارغاونې او د خلکو د ژوند د ښه کولو تر شعار لاندې افغانستان ته راغلې وه پوځونو یې داسې زړه بوګنوونکي کارونه ترسره کړل چې په لېدو یې د هر افغان په زړه کې د کرکې او نفرت موجونه په څپاند شول. اوس د هر افغان په خوله یوازې همدا یو خبره ده چې امریکایي پوځونه نه انساني کرامت پیژني او نه کوم اخلاقي معیار، نه د چا د ژوند پروا کوي او نه هم د چا د عزت او آبرو، د وحشي ځناورو په څېر چې څه زړه وغواړي ترسره کوي یې.

اوس د افغانستان اکثریت وګړي په دې خبره متفق دي چې په افغانستان کې د ټولو بدبختیو او ناخوالو اصلي عامل امریکایي چارواکي او دهغوی وحشي پوځونه دي. ځکه چې د لسو کلو په اوږدو کې د افغانانو په ژوند کې هېڅ راز مثبت بدلون او آسانتیاوې نه دي راغلي د ژوند په یوه ځانګه کې هم پرمختګ نه دی شوی، د امن او امان جنازه وتلې وګړي په ډاډه زړه خوب نه شي کولی، په بازارونو او لارو کوڅو کې هره شیبه له پریشانۍ سره مخامخ دي.

په حکومتي ادارو کې له لوړې کچې نه نیولې تر ټیټې کچې پورې درغلي او فساد دی، لوږه تنده زیاته شوې ده، عدل او انصاف په نظر نه راځي د ژوند سهولیات په نشت حساب دي، د ناروغانو د درملنې لپاره مستند ډاکټران، روغتونونه، لابراتوارونه او مناسب درمل نشته، د عادي ناروغیو او تستونو لپاره خلک پاکستان، هندوستان او نورو هېوادو ته ځي، د ژوندانه ورځني اړتیاوې د نورو هېوادونو څخه راځي له برق نه نیولې تر غوړي، صابون، چای، بوره توکر، تار او ستنه پورې له نورو هېوادو څخه صادروي. په دې لسو کلونو کې امریکا او دهغې ملګرو په افغانستان کې داسې کوم په زړه پورې او بنیادي کار نه دی کړی چې افغانان د خپل ضرورت وړ څیزونه پخپل هېواد کې ترلاسه کړي او خپل سرمایه له لاسه ورنه کړي.

د امریکا او ناټو غړو هېوادو د عسکرو په راتلو سره یوازې او یوازې مرګونه او وحشتونه زیات شوي دي چې له ټول افغانستان یې غبړه راتاو کړې ده. هرلورې ناامني او ویرې خپلې وزرې غوړولي او هر افغان د غم او فکر په زانګو کې جوتې وهي.

داسې یو هېواد چې وګړي یې په مسلسل ډول د لسو کلو راپدېخوا د بهرنیو پوځیانو دلاسه له مرګونو، ویرونو، غمونو، پریشانیو او ډول ډول تباهیو سره لاس او ګریوان وي او یوې شیبې لپاره هم د خوښۍ احساس نه کوي هغوی ځنګه کولې شي چې دداسې پوځونو په باب نیکې هیلې ولري او پخپل هېواد کې دهغوی د شتون ملاتړ وکړي.

امریکایي چارواکی او پوځي جنرالان دې دا واقعیت ومني چې هغوی په افغانستان کې خپل باور له لاسه ورکړیدی په سیاسي ډګر کې هم له ماتې سره مخ شوي او پوځي ډګر کې هم تش لاسې پاتې شوي دي. لدې پرته چې د افغانستان بې ګناه وګړي د غم او ویر په ټغر کینوي او دهغوی په وینو لاسونه سره کړي نور څه لاسته راوړنه نه لري.

ښه به دا وي چې امریکایي چارواکی نور په افغانستان کې د خپلو پوځونو د پاتې کولو له دریځ څخه لاس په سر شي ځکه تېره لس کلنه تجربه دا را په ګوته کوي چې په افغانستان کې د پوځونو د وخت تمدیدول د لازیاتو کړاوونو او بربادیو پرته بل هېڅ ګټه نه لري. بلکې د وخت په تېریدو سره په یقیني ډول ددې خبرې پراخ امکان شته چې پخپله په افغانستان او د سیمې په نورو هېوادو کې د امریکایي پوځونو په خلاف د جګړې ساحه دومره پراخه شي چې په عزت سره د وتلو لارې وربانديې بندې شي.

دې لپاره چې د نورو بدو حالاتو او تباهیو مخه په سمه توګه ونیول شي ددې خبرې ضرورت دی چې امریکا په افغانستان کې د خپل پوځي حضور د خاتمې لپاره عملي ګامونه اوچت کړي او افغانانو ته بشپړ واک ورکړي چې خپل سرنوشت پخپله وټاکي په دې کار سره افغانان وتوانیږي چې د موجوده حالاتو په نسبت یو ښه حالت او یو ښه حکومت رامنځ ته کړي یا لږ تر لږه له دې غمجنې او ویر ژړلې تباهۍ نه خپل ځانونه خوندي کړي ځکه چې د افغانانو په اراده هر جوړ شوی حکومت به د پردیو په شتون کې له جوړ شوي حکومت نه څو څو واره غښتلی او خپلواک وي.

طالبانو پر امریکایانو اتلس زره ...

راکټونو او کله کله هم د توغندیو څه نا څه ۱۰۶۰۰ حملې کړې وې خو سږ کال یې ۱۸۰۰۰ دغسې حملې پرې کړې دي (حال دا چې د کال ۱۷ ورځې لا پاتې دي).

دا زیاتوالی په داسې حال کې دی چې بارک اوباما نور دېرش زره پوځیان هم ور ولیږل. په کابل کې د امریکایي پوځ ویاند (تورن ریان ډونالډ) وویل چې د دې حملو د ډېرښت علت دا دی چې موږ هغوی ته جنګ راوړ.

خو نظامي شنونکو پخوا لا خبرداری ورکړی و چې د ډېرو پوځیانو ورلیږل او د ډېرو بمونو ورول به ډېر جنګ او تلفات هم په بر کې ولري، لکه څنګه چې تیر کال د امریکایانو تلفات ۳۱۷ و حال دا چې سږ کال تر اوسه (۴۸۶) ته رسېدلي دي.

په افغانستان کې به د امریکایي ...

کېدو اصرار وکړي.

د امریکا لوی درستیز وروسته هغو خبریالانو ته چې له ده سره یې سفر کاوه وویل، په پام کې لري چې ځینې عسکر په جولای کې بېرته خپل هیواد ته ورولي خو په عین حال کې یې وویل زه په دې اړه چې له کوم ځایه او څومره څواکونه به بېرته راولو، نه یم خبر.

مولن دا څرګندونې په عراق کې وکړې. دی دغه هیواد ته په رخصتیو تللی څو په لږ کې یې له امریکایي پوځیانو سره ووینې.

نیروهای روسیه در افغانستان حضور...

افغانستان جریان دارد، حمایت نموده است.

سردیوکوف گفت: "ما علاقمندیم، تا در انجا اوضاع ثبات پیدا کند و بدون تردید، ما علاقمند انیم، تا ترافیک مواد مخدره را به حد اصغری کاهش دهیم".

وزیر دفاع روسیه خاطرنشان ساخت که روسیه و نیروهای ایتلافی در این مورد توافق نموده که حالا روسیه به محموله های ترانزیت نه تنها به افغانستان، بلکه ازافغانستان اجازه خواهد داد.

سردیوکوف گفت: "از طرف دیگر، مجموعه به اصطلاح هلیکوترها نیز وجود دارد، ما این مساله را بررسی میکنیم که روسیه به چه شکل میتواند هلیکوپترهای ترانسپورت نظامی را (به افغانستان) ارسال نماید. یعنی ما طیف کامل را بررسی میکنیم".

آیساف در سال ۲۰۱۱ شاهد خشونت...

نتایج مطلوب نخواهد داشت.

فقیر محمد فقیر وزیر داخله دوران ریاست جمهوری حفیظ الله امین گفت:

«فشار های تاثیر می کند اما نه به آن اندازه که این ها فکر می کنند که مخالفین میدان را رها می کنند این طور نخواهد بود.»

اما آیساف گزارش های را رد می کند که گویا مخالفین در این اواخر نیرومند شده اند. به گفته سخنگوی آیساف، آنان ظرف ماه های اخیر تحرکات مخالفین را در ساحات مختلف بخصوص در ولسوالی های ارغنداب و پنجوایی کندهار به عقب زده اند، ولایتی که به روز یکشنبه شش سرباز امریکایی در نتیجه یک حمله انتحاری در آن جان باختند.

مقامات آیساف در حالی از آماده گی های لازم برای اجرای عملیات زمستانی علیه مخالفین دولت افغانستان خبر می دهند که رییس جمهور کرزی چندین بار روی اجرای عملیات به هدف نابودی مراکز تروریستان و القاعده در آنسوی مرز های افغانستان تاکید نموده است.

گفته شده راه اندازی عملیات در دهات افغانستان نه تنها سبب تلفات غیر نظامیان می شود، بلکه در نتیجه آن به نیروهای بین المللی هم صدمه می رسد. اما نیروهای آیساف به راه اندازی عملیات نظامی در دهات افغانستان هم چنان ادامه داده اند که در جریان آن به این نیروها هم تلفات وارده شده است.

به اساس گزارش ها، نزدیک به ۷۰۰ سرباز بین المللی در موجی از خشونت های سال جاری میلادی در افغانستان کشته شده اند.

محمد خلیل

پر الله جل جلاله ایمان

پر الله جل جلاله ایمان درلودل د اسلام د سپیڅلي دین بنسټ دی، په همدې سره د مؤمن او کافر ترمنځ توپیر کیدلی شي. انسان پخپل ژوند کې دوه لارې خپلولی شي، یا به د الله تعالی پرستش او بندګي کوي او یا به د شیطان ملګرتیا کوي. هر هغه لاره چې د الله جل جلاله د رابنودل شوې لارې سره ټکر کوي هغه د شیطان لاره ده او دا یقیني خبره ده چې د شیطان پر لاره تلوونکی انسان هرګز الله ته نه شي نژدې کیدلی.

د اسلام سپیڅلی دین په انسان کې خدا پرستي پیدا کول غواړي خو ددې کار پیل یواځې او یواځې په ایمان سره کېږي. که چېرته یو انسان پخپل ایمان کې رښتوني او مخلص وي نو دهغه روح د خدای پرستي او بندګي له جذبې نه ډکېږي او ټول ژوند یې د الله په بندګي کې تېرېږي. له طاغوت سره دهغه اړیکې شلیږي او یواځې له خپل پالونکی ذات سره اړیکې مضبوطوي.

لکه چې الله تعالی پخپل کتاب قرآن کریم کې فرمایي:

ترجمه: "پس څوک چې له طاغوت نه انکار وکړي او پر الله ایمان راوړي نو هغه یوه مضبوطه رسۍ ونیوله چې کله هم نه شلیږي." (البقره: ۲۵۶)

پر الله تعالی د ایمان مطلب دا دی چې تا خپل ځان په بشپړه توګه الله ته سپارلی دی. د الله تعالی غلامي دی داسې پر ځان منلې دی چې د بل هېچا حکومت او باداري درباندې نشي قایمېدلې. ته به دنیا کې یواځې د الله تعالی د بندګي د ترسره کولو لپاره ژوند تېروې. لدې پرته ستا د ژوند بل هېڅ مقصد نشته. د ایمان په ذریعه ته ددې ژمنه کوې چې زه د الله غلام او دهغه د هر حکم منوونکی یم، بالکل په هغه ډول ژوند ترسره کوې لکه چې یو وفادار غلام یې تیروي، ته دهغه کار په لورې ګامونه اوچتوې کوم لورې ته چې الله تعالی د ګامونو د اوچتولو حکم درکړیدی. مطلب دا چې ستا هر کار او کسب به د الله تعالی د لارښوونې عین مطابق وي، یواځې او یواځې د الله تعالی د حکم او فیصلې په وړاندې به ستا سر ټیټېږي له الله تعالی سره د بندګي دا ژمنه له تانه ټول ذاتي اختیارات له منځه وړي او یواځې دهغه جل جلاله اختیاراتو ته سپاري. ستا د خوښۍ او غم محرک به یواځې د یو الله ذات وي ستا هره کړنه به د الله تعالی د خوښۍ او رضا لپاره وي. که د الله حکم وي نو ته به د خپل ځان دښمن هم له سینې سره لګوې او که د الله حکم نه وي نو له خپل ځان نه د خپل اولاد په جدا کولو کې به هم څه ځنډ او فکر نه کوې.

ستا ستر مقصد به دا وي چې د الله تعالی خوښي ترلاسه کړې او د قیامت په ورځ د جنت له لوی نعمت نه برخمن شې.

د الله تعالی د رښتوني بنده شعار د الله تعالی دا آیت وي:

ژباړه: "بې شکه زما لمونځ، قرباني، زما ژوند او زما مړ کېدل خاص د الله (رضا) لپاره دی چې د ټولو عالمینو پالونکی دی."

ډېر خلک داسې هم شته چې هغوی د ایمان دعوه خو کوي مګر دهغوی ژوند د الله تعالی له غلامي او بندګي نه تش وي. هغه ددې خبرې اقرار خو کوي چې الله تعالی دهغه مالک او آقا دی، مګر دهغه جل جلاله د بندګی لپاره دهغه په زړه کې هېڅ قسم شوق او جذبه نه لیدل کیږي د الله په لاره کې قرباني ورکول وربانديې ګران تمامیږي، دهغه په ژوند او کړنو کې د الله جل جلاله حکومت قایم نه وي دا دواړه پخپلو کې سره ښکاره تضاد لري. ایمان خو هغه ستر معنوي قوت دی چې پلار د خپل زوی په مرۍ د چاړه د راکشولو لپاره چمتو کوي، همدغه راز زوی د خپل پلار په خلاف ودریدو ته اماده کوي لکه چې الله تعالی پخپل کتاب قرآن کریم کې فرمایي:

ژباړه: "ایمان داسې څیز دی چې د الله تعالی له غلامي پرته د بل چا د غلامي کولو نه باغي کوي، د هر چا په زړه کې چې ایمان ځای ونیسي نو دهغه پر زړه د طاغوت قبضه نشي کیدلی او هغه په بشپړ ډول د الله غلامي ته خپل سر ټیټوي." (الممتحنه: ۴)

یو انسان هله د درواغو په لومه کې راګیرېږي چې له رښتونولي او صداقت نه ناخبره وي، کله چې یو چاته رښتیا ثابت شي نو هغه د درواغو په لومه کې نه نښلي. کله چې د یو انسان یقین او ایمان په دې خبره پوخ شي چې هغه یواځې د یو الله غلام دی او دهغه له غلامی پرته بله لاره هغه لپاره صحیح نه ده نو هغه ځنګه له الله نه بغاوت کولی شي؟!

دا واقعیت باید له پامه ونه غورځول شي چې د ایمان رښتوني ثمرات هله ترلاسه کیږي چې هغه شعوري ایمان وي نه هسې رواجي. که چېرته یو مسلمان لږ تر لږه په دې اړه هم فکر نه کوي چې پر الله تعالی د ایمان راوړلو اصل مقصد څه دی او هغه له مانه څه غواړي نو ددې ښکاره مطلب دا دی چې ته هسې په رواجي ایمان قناعت لری نو ځکه له داسې ایمان نه د ثمراتو د ترلاسه کولو امید نشي کیدلی، دا هغه ایمان نه دی چې په ټولنه کې مثبت انقلاب راولي او انسانیت له هر ډول تیارو نه پاک ژوند تیر کړي.

واقعي ایمان هغه دی چې د انسان زړه او دماغ مطمئن او آسوده شي، په دې خبره خوند واخلي چې دهغه پالونکی یواځې یو الله دی، په ټولو ادیانو کې یواځې د الله دین بشپړ او کامل دی، او محمد صلی الله علیه وسلم دهغه رښتونی قائد او مقتدی دی. لکه چې محمد صلی الله علیه وسلم فرمایي:

ژباړه: "کوم سړی چې د الله تعالی په ربوبیت، د اسلام پر دین او د محمد صلی الله علیه وسلم پر رسالت رضا شو نو هغه د ایمان خوند وڅکلو." (مسلم)

د رضا دغه اوچته مرتبه د رواجي ایمان له لارې نشي ترلاسه کیدلی، دې لپاره داسې قوي او غښتلي ایمان پکار دی چې د عقل او بصیرت په رڼا کې ترلاسه شوې وي او په دماغ کې یې مضبوطې جرړې نیولې وي.

د ایمان مطلب د الله تعالی غلامي او بندګي کول دي، دا یو اوچت کار دی چې په اساني سره نشي ترلاسه کیدلی. الله جل جلاله یواځې هغه څوک د خپل غلامي لپاره غوره کوي چې د زړه له کومې دهغه غلامي قبلولو ته لیواله وي، که څوک د بشپړ غلامي او بندګي لپاره چمتو نه وي الله تعالی دهغه داسې نیمګړې غلامي قبلولو نه بشپړ انکار کوي. لوی الله یواځې دهغه چا غلامي پخپل دربار کې قبلوي چې د بل چا د غلامي هر ډول کړۍ له خپلې غاړې راوغورځوي او فقط د یو الله د غلامي کړۍ په غاړه واچوي.

محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی فرمان بیانوي او فرمایي:

ژباړه: "زه پخپل غلامي کې د بل چا د شریکولو نه بې نیاز یم، که چېرته یو څوک یو کار ترسره کوي او په هغه کې له ماسره بل څوک شریکوي نو زه هغه او دهغه دا شریکوان ردوم او زه له هغو نه بیزار یم، دهغه ټول عمل (کړنه) هغه چا لپاره ده چا لپاره چې کړې یې دی." (مسلم)...

پاتې ٤ مخ

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داریکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ایمیل
shahadatnews_kabul@yahoo.com
دیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

په سنګین ولسوالي کې د امریکایي سرتېرو تلفات له هغه نه زیاته ده چې بریتانوي ځواکونو ته په دریو کلونو کې رسیدلی وو.

انټرنیشنل هرالد ټریبون:

د امریکا چاپ انټرنیشنل هرالد ټریبیون ورځپاڼې د افغانستان په جنوب کې د شخړو د زیاتوالی په اړه یوه تحلیلي مقاله خپره کړې ده.

ورځپاڼې په پیل کې لیکلي، هغه ارامي چې د افغانستان په جنوب کې سیمې ته د امریکایي اضافي سرتېرو په ورتګ سره حاصل شوې وه، بیرته د شخړو په زیاتېدو سره مختل شوې ده.

د ورځپاڼې په وینا د امریکا پلي سمندري ځواکونه چې د هلمند ولایت په سنګین ولسوالی کې یې امنیتي چارې له بریتانوي ځواکونو ترلاسه کړې، له پیچلو ستونزو سره مخامخ دي.

په دې ولسوالی کې په لومړیو نوي ورځو کي امریکایي سرتېرو

ته د تلفاتو اندازه له هغه نه زیاته وه چې بریتانوي ځواکونو ته په دې سیمه کې په دریو کلونو کې رسیدلی وه.

ورځپاڼه ملکي تلفاتو ته په اشاره لیکي چې تیره جمعه پنځلس تنه ملکي وګړي په هلمند کې د سړک د غاړې بم چاودنه کې ووژل شول.

د انټرنیشنل هرالد ټریبون په وینا د کندهار ولایت حالات چې په وروستیو اونیو کې یوڅه ارام ښکاریدل، هم خراب شوي دي.

د تیرې اونۍ په پای کې دوه تنه سیمه ایز چارواکي، د کندهار د مخدره موادو ضد ادارې د مالي چارو امر محمد انور او د محلي شورا یو مشر نورمحمد د طالبانو له خوا په ډزو ووژل شول.

د ورځپاڼې په وینا د افغان چارواکو د وژلو په هدف حملې ښايي دومره زیاتې نه وي خو په سنګین ولسوالی کې ستونزې دوامداره او ډیرې جدي دي.

د ویکي لیکس له خوا په افشا شویو اسنادو کې هم افغان او امریکایي چارواکو په هلمند کې په تیره بیا د دې ولایت په سنګین ولسوالی کې د بریتانوي ځواکونو د عملیاتو پرځرنګوالي سخت انتقادونه کړي وو، خو انټرنشنل هرالدټریبون په سیمه کې د امریکایي پلي سمندري ځواکونو د ویاند ګبرایل چاپین خبره را اخیستې چې وایي، په سنګین ولسوالی کې اوس حالات ډیر خراب دي.

نیویارک ټایمز:

نیویارک ټایمز ورځپاڼې د افغانستان له لارې د ترکمنستان د ګازو د پایپ لاین د پروژې په اړه یوه مقاله خپره کړې ده.

ورځپاڼې د مقالې په پیل کې لیکلي چې د افغانستان په جنوب کې د نا امنیو له امله د ګازو د انتقال پایپ لاین غیر عملي په نظر رسېده خو د تیرې شنبې په ورځ د دې پایپ لاین د غزولو پروژه په یوه حقیقت بدله شوه.

د افغانستان، ترکمنستان، پاکستان مشرانو او د هند د انرژۍ وزیر د ترکمنستان په پایتخت عشق اباد کې د دې پروژې د پلان ابتدايي تړون چې امریکایي ملاتړ کوي، لاسلیک کړ.

د ورځپاڼې په وینا امریکایي چارواکي هیله من دي، چې د افغانستان له لارې د ګازو د انتقال دغه پروژه به نه یوازې په افغانستان کې د امنیت له ټینګښت سره مرسته وکړي بلکه د دواړو زړو دښمنانو پاکستان او هند ترمنځ د اړیکو په ښه کېدو کې به هم مثبت رول ولوبوي.

نیویارک ټایمز ورځپاڼه لیکي، د افغانستان له لارې د ګازو د پایپ لاین د موافقې لاسلیک کېدل د دغې پروژې د تطبیق لومړی ګام دی خو د ورځپاڼې په وینا هغه هېوادونه چې د دې پروژې ملاتړ کوي باید ورته مالي منابع هم پیدا کړي.

د ترکمنستان د ګازو پایپ لاین چې شاوخوا اولس سوه کیلومتره اوږد والی لري، لګښت یې د دري او لس میلیارډ امریکایي ډالرو ترمنځ اټکل شوی دی.

د ورځپاڼې په وینا د دې پایپ لاین په وړاندې یوه بله ستونزه داده چې هغه د افغانستان له جنوبي کندهار او هلمند ولایتونو څخه چې د طالبانو اصلي مرکزونه بلل کیږي، تیریږي.

افغان چارواکو ویلي، چې د ګازو دغه نل لیکي به د مځکې لاندې ښخې شي او خلکو ته به یې د ساتلو لپاره پیسې ورکول کیږي.

د نیویارک ټایمز په وینا د ګازو د غه پایپ لاین به افغانستان ته ګازو د حق العبور له درکه ډیره ګټه ورسوي او پردې سربیره به دا هېواد وکولای شي چې د برېښنا د تولید د دستګاو او تودوخې د اړتیا وړ سوند موادو په برخه کې ګاز په ارزانه بیه وپیري.

نیویارک ټایمز ورځپاڼه د ګازود پایپلاین د دغې پروژې سابقې ته په اشاره لیکي، په ۱۹۹۵ م کال د تیلو سترو کمپنیو د ترکمنستان د ګازو د پروژې وړاندیز وکړ خو یو کال وروسته چې طالبانو د افغانستان کنټرول په لاس کې واخیست، د تیلو دغو شرکتونو له دغې پروژې څخه لاس واخیست.

د اردن حکومت وايي چې له افغانستان سره مرستې ته دوام ورکوي

تاند ویب پاڼه:

د اردن حکومت د خپل سیاسي مخالف ګوند د نیوکې په ځواب کې ویلي چې په افغانستان کې د اردني سوله ساتو ماموریت دا مانا نه لري چې له امریکایي پوځیانو سره مرسته وکړي بلکې هدف یې دا دی چې له خپلو مسلمانانو سره مرسته وکړي.

د اردن د حکومت ویندوی ایمن صفادي د دوشنبې په ورځ د اردن غښتلی اسلامي اپوزیسیون په دې وغانده چې د اردن حکومت یې په افغانستان کې له امریکایي پوځیانو سره په ملاتړ تورن کړی.

صفادي وویل چې د اسلامي عمل جبهې د شنبې د ورځې فتوا د اردن بشري او سوله ساتي هلې ځلې زیانمن کړي دي.

د اردن د اسلامي عمل جبهې د یکشنبې په ورځ په یوه جاري کړې فتوا کې ویلي چې افغانستان ته د دې لپاره د ځواکونو لېږل چې د ناټو، امریکا یا بل هیواد ملاتړ وکړي ناروا کار دی.

دوی همداراز ویلي چې مسلمانانو ته پکار نه ده چې پر خپلو مسلمانانو د یرغل ننګه وکړي او افغانستان یو مسلمان هیواد دی.

خو صفادي ټینګار وکاوه چې اردن به له نورو مسلمانانو سره مرستې ته دوام ورکړي.

اردن وايي چې په افغانستان کې دري سوه (۳۰۰) سوله ساتي لري خو د روان کال په جنورۍ کې په خوست ولایت کې د اردني دوه اړخیز جاسوس بمي حملې وښودله چې دا هیواد په افغانستان کې جاسوسان هم لري.

پر الله جل جلاله ایمان (پاتې برخه)

مطلب دا چې تر څو پورې یو انسان خپله خوښه د الله تعالی له خوښې نه قربان نه کړي او خپل هر څه الله ته ونه سپاري هغه د الله بنده او غلام نشي کیدلی.

الله تعالی له خپلو بنده ګانو څخه د نیمګړی غلامي غوښتنه نه ده کړې بلکې بشپړ غلامي غواړي.

ژباړه: "ای مؤمنانو ! تاسې په بشپړ ډول په دین کې داخل شئ او د شیطان پر لارو مه درومئ، هغه ستاسې ښکاره دښمن دی." (البقره: ۲۰۸)

ایمان د مؤمن نه ربښتونی وفا، قرباني، مصمم، جدو جهد او مینه غواړي.

با ختم دورهء آقای کرزی در ...

روزنامه از قول تحلیل گران می نویسد:

راه درست این است که ایالات متحدهء امریکا اذهان مردم را به تغییرات در افغانستان آماده سازد و با فعالیت سیاسی و روشن کردن افکار مردم افغانستان به آن ها نشان بدهد که تغییر در کابینه، آمدن یک چهرهء نو به حیث اعضای آن یک تعامل عادی در سیاست است و هیچ کس در یک چوکی برای ابد باقی نمی ماند و آقای کرزی نیز یک روز این مقام را ترک خواهد کرد و همه باید آماده آن باشند.

بازهم در چنین حالت با وجود روشن شدن افکار سیاسی مردم، این موضوع نیز باید واضح شود که کی ها و یا کدام احزاب می توانند، خالیگاه قدرت را در افغانستان پر کنند.

به نوشته روزنامه هرچند که در حالات کنونی امریکا در افغانستان مشغولیت های دیگر دارد و در داخل خود نیزبا مشکلات روبروست، شاید نخواهد یک پروسهء دیگر را در افغانستان شروع کند، اما اقدام نکردن در این ساحه فرستادن افغانستان به سمت و استقامت یک آیندهء نا معلوم معنی می دهد و براهداف کوتاه مدت امریکا در افغانستان نیزبی تاثیر نخواهد بود.

روزنامه از قول تحلیل گران می نویسد که پروسهء سیاسی برای آینده افغانستان مخصوصاً ایجاد احزاب سیاسی که بر اساس اصول و طرز دید مشخص کارمی کنند، باید تقویه شود، چه این گروه ها چه بنام حزب یاد شوند و یا چیز دیگر، باید به صحنه سیاسی برآیند، مرام و منشور خودرا اعلان کنند تا مردم به طرز العمل آن ها آشنایی پیدا کند.

روزنامه می افزاید درطول مدتی که باقیمانده است زمینهء تبلیغات در رسانه ها باید برای احزاب فراهم شود تا چهره های تازه در عرصهء سیاسی و در بین مردم ظهور کند.

یعنی این که افغانستان از همین حالا به یک جهت نو سیاسی نیاز دارد تا سیاستمداران با نظریات نو و تازه در آینده به روی صحنهء سیاسی آن کشور، ظاهر شوند.

ریچارډ هولبروک په ۶۹ کلنۍ ...

ده چې د روانې اوونۍ د پنجشنبې په ورځ اعلان شي.

دا ستراتیژي یو کال دمخه ولسمشربارک اوباما اعلان کړه او له هغې سره سم یې افغانستان ته دېرش زره اضافي سرتېري ولېږل.

د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاص استازی ریچارډ هولبروک روغتیايي وضعه د شنبې په ورځ د زړه د لوی شریان له جراحي عملیاتو وروسته لا خرابه شوه.

نهه شپیته کلن هولبروک د جمعې په ورځ هغه مهال ناروغ شو چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ودانۍ په اووم پوړ کې یې کار کاوه.

په همدې منزل کې د بهرنیو چارو د وزیرې هیلري کلنټن دفتر هم موقعیت لري.

امریکایي چارواکو په لومړي ورځ د هغه روغتیايي وضعه نازکه وښودله.

د امریکا د بهرنیوچارو وزارت د جمعې په ورځ وویل چې د هولبروک ناروغي سخته ده او د کورنۍ غړي یې روغتون ته ورغلي دي.

د هولبروک روغتیايي وضعه له یوې مودې راهیسې ښه نه وه. د روان کال په اپریل کې د زړه د رګونو د بندښت په خاطر په نیویارک کې بستر شو خو ډاکترانو اجازه ورکړه چې سفر کولی شي.

هولبروک له څو کلونو راهیسې د طالبانو او القاعده پرضد د افغانستان او پاکستان د همکارۍ د نژدې کولو لپاره د امریکا د خاص استازي په توګه هلې ځلې کوي.

هولبروک په ۱۹۹۵ کې د دېتان د سولې د موافقې په خاطر، چې له ګبله یې د بوسنیا درې کلنه جګړه پای ته ورسېده، زیات مشهور شو.

هولبروک له ۱۹۷۷ تر ۱۹۸۱ پورې د اسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو مرستیال وزیر وو او له ۱۹۹۴ تر ۱۹۹۶ پورې یې په اروپا کې همدا مسوولیت په غاړه وو.

دې یوازینې څوک دی چې په دوو سیمو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مرستیال په توګه یې کار کړی دی.

هولبروک د ۲۰۰۴ کال د جمهوري ریاست په انتخاباتو کې د دیموکرات ګوند د کاندید جان کیري د سلاکار په توګه کار کاوه او هماغه وخت د بهرنیو چارو وزارت ته کاندید وو.

همداراز د ۲۰۰۸ کال په انتخاباتو کې د هیلري کلنټن بهرنۍ پالیسي سلاکار وو.

همدې کاري تجربې او سابقې ته په پام سره د ولسمشربارک اوباما له لورې هم د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ په ۲۲ مه د افغانستان او پاکستان په چارو کې د امریکا د متحدو ایالتونو خاص استازی وټاکل شو.

روسي پوله ساتو ته اړتیا ...

خپلې خاورې ته د افغانستان د بلوا د پراخیدو مخه ونیسي او له بلې خوا له خپل شوي اقتصاد سره یې مرسته وشي.

په هغه سند کې چې سږکال د فبرورۍ په ۱۶ واشنګټن ته استول شوي او ویکي لیکس افشا کړي، دغه راز ویل شوي چې د منځنۍ اسیا په دې ترټولو بېوزله هیواد کې په ادارو کې خپلوي پالنه او اداري فساد په ټولو سطحو کې عام دی چې په دې هیواد کې یې د پرمختګ مخه ډب کړې ده.

تاجکستان، افغانستان ته د امریکا د وسایلو او تجهیزاتو د لیږدولو یوه مهمه ترانزیټي لاره ده.

د افشا شوي سند له مخې تاجکستان ډیر فشار راوستی وه چې په خپله خاوره کې د امریکا پوځې اډې ته د اجازې ورکولو په بدل کې له دې هیواده ډیر امتیازات ترلاسه کړي.

د تاجکستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د افشاشویو سندونو په اړه تبصره نه کوي.

افغانستان با کشور های منطقه و جهان، از راه ترانسپورت زمینی وصل می گردد

کابل، رسنی:

در حالی که تاجران افغانی از سیستم نا منظم ترانسپورت بین المللی شکایت دارند، مقامات اتاق های تجارت و صنایع افغانستان می گویند، تا یک سال دیگر افغانستان با کشور های منطقه و جهان، از طریق ترانسپورت زمینی وصل می گردد.

محمد قربان حقجو رییس هیات عامل اتاق های تجارت و صنایع افغانستان به روز سه شنبه در یک نشست مشترک خبری با معین های وزارت مالیه، ترانسپورت و تجارت در کابل گفت، هرچند افغانستان از سال ۱۹۷۶ عضویت سازمان ترانسپورت را داشت، اما حدود یک ماه قبل با امضای توافقنامه یی این عضویت تجدید شد و بعد ازین تاجران افغانی با مصرف کم و بدون ضیاع وقت محصولات خود را از طریق سیستم تیر به کشور های اروپا و منطقه صادر خواهند کرد.

آقای حقجو در مورد نقش این سیستم در جهت ایجاد سهولت به تجار افغانی گفت:

"سیستم تیر تسهیل کننده ترانسپورت زمینی است و عضویت افغانستان در سیستم جاده بین المللی نقش فوق العاده حساس، کلیدی و تاریخی را در رشد اقتصادی افغانستان و در بیرون کشیدن این کشور از وضعیت موجود، دارد."

رییس اتاق های تجارت و صنایع افغانستان همچنان گفت، سازمان ترانسپورت زمینی خواهان شرایطی است که در آن معیاری سازی ترانسپورت و ایجاد راه های ستندرد مواصلاتی و سهولت های گمرکی نیز شامل است.

اما سید مبین شاه معین عواید و تدارکات وزارت مالیه می گوید، هرچند در جهت ایجاد تسهیلات عاجل موانع وجود دارد، با آنهم وزارت مالیه با همکاری وزارت ترانسپورت کار ساده سازی امور در گمرکات را آغاز نموده که انکشافاتی نیز در زمینه صورت گرفته است.

وی افزود:

"موانع وجود دارد همه آهسته آهسته از میان برداشته می شود. لایسنس راننده گان همه کمپیوتری شده، ۱۲ گمرک ما با هم وصل است و در قسمت ظرفیت سازی کار جریان دارد."

سازمان ترانسپورت جاده دارای ۱۸۰ سازمان عضو از ۷۴ کشور می باشد که با فعال شدن سیتم تیر افغانستان با ۵۷ کشور عضو این سازمان در آسیا، افریقا، اروپا وصل خواهد شد.

تاکید اتاق های تجارت درین نشست به وزارت ترانسپورت این بود که به آنعده از شرکت های ترانسپورت اجازه شمولیت به سیستم تیر داده شود که وسایط آنها مطابق به ستندر بین المللی ترانسپورت جاده بوده و به اجرای تعهدات خود در زمینه پابند باشند.